# ولسي فکر او ملي محور

زموږ د ټولنې په رغونه او پرمختګ کې زموږ ذهني وده او پراخوالی مهم توکي دي نو اړینه ده چې له دې ذهني ودې څخه په شخصي خوی او کړنو او ټولنیزو اړیکو او مسوولیتونو کې کار واخلو. زموږ دین او زموږ کلتور زموږ د انفرادي، کورني او ټولنیز ژوند، حکومت او دولت لپاره عمومي لارښوونې لري. څنګه چې د انسانانو ژوند د بدلون او پرمختګ په حال کې دی، له دې امله موږ باید د وخت او حالا تو له غوښتنو سره سم د اسلامي لارښوونې په رڼا کې د خپل ځان، ټولنې او خاورې په هکله اړونده فکر او فیصلې وکړو. افغان ملت اوس د یو نوي بدلون په درشل کې دی. د سولې خبرې د دوو لوریو ترمنځ روانې دي چې تر یوې اندازې یې پایلې له ولس سره شریکې شوې دي، خو د اساسي موضوع او د اجنډا د ټاکنې په برخه کې کومې د پام وړ لاسته راوړنې نشته. د داسې یو افغانستان د جوړیدو په ارمان چې د نظام بنیادونه او ارزښتونه یې د یووالي، سوکالۍ، پرمختیا او د عدالت پر بنسټ او اصولو ولاړ وي، د یو ولسي فکر او ملي محور د رامنځته کولو او غښتلتیا په تکل لاندیني فکري ارزښتونه وړاندیز کیږي:

**۱ - خپلواکي**

خپلواکي د انسانانو هغه وړتیا ده چې د مشروعه منافعو په خاطر د رشد او بلوغ په حالت کې پرته له پردي زور، تاو، بندیز او ټاکنې د یو څه د کولو او یا نه کولو په اړه پریکړه وکړي. دا وړتیا د انسانانو په انفرادي او ټولنیز ژوند کې عملي ده. په نړیواله سیاسي کچه خپلواکي له بهرني نفوذ او ادارې څخه خلاصون ته ویل کیږي. یوې ټولنې او یو هیواد ته هغه وخت خپلواک ویل کیدی شي چې په بهرنیو حکومتونو او قدرتونو پورې تړلی نه وي او چارې یې پر خپلو پښو ولاړې وي. خپلواکي ولسونو ته اراده، پېژندنه او ملي احساس وربخښي. اسلام خپلواکي د انسانانو طبیعي حق ګڼي او هغه ژوند، ژوند نه بولي چې خپلواکي ونلري.

د افغانستان راتلونکی نظام باید د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د زور او زیاتي نه خالي او د خپلواکۍ او ازادۍ د سپیڅلتوب او ساتنې د اصولو پراساس ولاړ وي. لوی څښتنﷻ انسان اشرف المخلوقات، خپلواک او ازاد پیدا کړی او خپلواکي او ازادي یې انسانانو ته د یوې پیرزوینې او حق په توګه ورکړي دي. یو انسان که واکمن هم وي، هیڅ حق او صلاحیت نه لري چې د بل انسان د ژوند لپاره غیرشرعي محدودیتونه وټاکي. د انسانانو د ژوند په اړه فیصلې یواځې د لوی څښتنﷻ د اوامرو او لارښوونو په رڼا کې جواز لري او له دې څخه بهر د تصمیم او پریکړې جواز نشته. انسان د خپل فکر، خپل ژوند او خپلې شتمنۍ پوره واک لري چې د هیڅ دنیایي زور پیرو نه دی. د انسان انفرادي خپلواکي، بیان، عمل او حرکت باید ټولنیزو او ملي ګټو ته ګواښ جوړ نه شي.

په اسلامي نظام کې د فکر او نظر د ازادۍ حقونه خوندي دي او مسلمانان دې ته هڅوي چې د دنیا، آخرت، نړۍ او خپل چاپیریال په هکله څیړنې وکړي، خپل عقل په کار واچوي او د ځمکې پرمخ له پیرزوینو څخه د انسانیت لپاره ګټه واخلي، له طبیعت څخه د ځان او ټولنې د ښیګڼو لپاره ګټه واخلي او د شونتیا تر بریده پورې یې د بشریت د ګټو لپاره راوڅرخوي. دا ټول هغه وخت شونې دي چې انسانان د چارو او کړنو په اړه قوي فکر وکړي او د ځان او ټولنې د جوړښت او پرمختیا لپاره عملي ګامونه پورته کړي. دا هرڅه په یو هیواد کې سولې او ثبات ته لار هواروي.

**۲- سراسري سوله او ملي ثبات**

د یوې ټولنې او یو هیواد د ژوند، بقا او پرمختګ لپاره سوله او په سوله کې ژوند کول دویم اصلي او بنیادي رکن دی. سوله انسانانو ته وړتیا ورکوي چې د ځان او ټولنې په هکله فکر وکړي او رغنده او ګټورې فیصلې وکړي. په سوله کې د یو هیواد د پرګنو ترمنځ د یووالي، ګډ ژوند او شریکې پیژندنې فکر غښتلی کیږي او سمتي، ژبني، تنظیمي، او نژادي توپیرونه له مینځه ځي. په یو هیواد او یوه ټولنه کې سوله او ثبات هغه وخت رامنځته کیدلی او وده کولی شي چې له یوې خوا د هغې ټولنې وګړي خپلې انفرادي غوښتنې او غرایض له مینځه یوسي او له بلې خوا په هغې هیواد او ټولنه کې قانون شتون او حاکمیت ولري. د نورو ستونزو ترڅنګ افغانستان د قانون د پلي کولو د ستونزې سره مخ دی چې په ډیرو برخو کې د نه شتون ترحد پورې رسیدلی دی.

په افغانستان کې د سولې لپاره اړینه ده چې میرڅمنې ډلې سره مخامخ خبرې وکړي او داسې اغیزمنه د خبرو فضا رامنځته کړي چې د خبرو په پایله کې پخلاینه وشي. مګر داسې بریښې چې د سولې مخامخ خبرې ستونزمنې او د کړکیچ څخه ډکې دي نو له دې کبله د اوسني بحران د حل لپاره اړینه ده چې د قومونو د مشرانو، ملي شخصیتونو، علماوو، پوهانو او د مدني ټولنو ګډ میکانیزم جوړ شي او هیواد له اوسني وران ویجاړ او بحراني حالت نه په سوله ایزو لارو راوویستل شي. یوه خپلواکه، غیرګوندي او غیرجهادي د منځګړیتوب واک لرونکې جرګه جوړه شي چې عادلانه او خپلواکه منځګړیتوب وکړي او دا پروسه په صداقت او ایماندارۍ سره پرمخ بوځي. د منځګړیتوب په جرګه کې باید حکومتي کسانو، د حکومت، طالبانو او نورو میرڅمنو ډلو سره تړلو کسانو، سیاسي ګوندونو او ډلو، جهادي ډلو، جهادي مشرانو او جهادي قوماندانانو ته ځای ورنکړل شي. موخه باید د داسې بنسټونو رامنځته کول وي چې په هغې کې د قدرت د ګډون لارې پرانستل شي او د میرڅمنو قوتونو ترمنځ کړکیچ له مینځه ویوړل شي. د قدرت شریکول به د تلپاتې سولې د رامنځته کولو لپاره خنډونه له مینځه یوسي او سوله به په پراویزه توګه رامنځته شي. نړیواله ټولنه کولای شي د هغو ضروري بنسټونو په جوړولو او رامنځته کولو کې مرسته وکړي له کومې چې د سولې پروسه د بریا پر لور تللی شي. دا به د افغانانو سره مرسته وکړي، خپله وړتیا او بسیا به نوره هم لوړه بوځي او په ټولنه کې به عمومي پخلاینه او ټولنیزې اړیکې ټینګې شي.

د سراسري او ربښتینې سولې د بریا په صورت کې موخه باید د یو پیاوړي سیاسي، اقتصادي، تعلیمي او په پښو ولاړ خپلواک نظام جوړول وي چې د ولس لپاره د خدمت وړتیا ولري او نړیواله کچه د سیاسي ډیالوګ له مخې منبښت ولري. له

دې سربېره باید په اوږد مهال کې هر اړخیز او ځواب ویونکي افغاني نظام ته لاره هواره کړي. دا هرڅه د ټولنیزعدالت د رامینځته کولو او ټولنه د سوکالۍ پر لور د وړلو لپاره ضروري رکنونه دي چې باید د افغان ملت د غوښتنو برخه وي.

**۳- ټولنیزعدالت او دوامداره پرمختګ**

ټولنیزعدالت داسې یو جوړښت (سیستم) دی چې په یو هیواد کې د انفرادي او ټولنیزو حقونو په هکله فیصلې د انفرادي او ټولنیزو مصلحتونه پر اساس په متوازن ډول وشي او د ټولنې پر ټولو وګړو په یو شان تطبیق شي. لوی څښتنﷻ ټولنیزعدالت د مسلمانانو د ژوند برخه او مسوولیت ګرځولې دی چې د انساني ژوند هر اړخ پکې ګډ دي. ټولنیزعدالت او ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او علمي پرمختګ یو پر بل پورې تړلي دي، یو بل پوره کوي، او د ټولنې د روغ او رغنده جوړښت مهم توکی جوړوي. پرته د یوه له شتون څخه د بل شتون بې مانا او نیمګړی دی. که چیرې دا توکي په برابره انډولیزه توګه وړاندې ولاړ شي نو بیوزلي له مینځه ځي، د خلکو بنسټیزه اړتیاوې پوره کیږي، ملت د حکومت له زور او زیاتي څخه په امن کې وي، په ورځنیو چارو کې فیصلې په عدل سره سرته رسیږي او انسان د فکري او جسمي خپلواکۍ په چاپیریال کې ژوند کوي. لوی څښتنﷻ د قرآن عظیم الشان په بیلابیلو آیتونو کې په عدل کولو حکم کړی او فرمایلي چې عدل تقوی ته نږدې دی. اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ.

په هره ټولنه کې ټولنیزعدالت د هغې ټولنې د دوامداره پرمختګ پورې تړلی دی چې اقتصادي او سیاسي اړخونه پکې تر نورو برخو خورا اغیزمن دي. اقتصادي پرمختګ په هیواد کې د حکومت او خلکو تر منځ د ګډو اقتصادي فعالیتونو عملي کولو او ودې په نتیجه کې رامنځته کیږي. حکومت په لوړه کچه اقتصادي پلانونه جوړوي او خلک د دې پلانونو په عملي کولو کې برخه اخلي. همدارازخلک هم لوی او واړه اقتصادي پلانونه لري چې حکومت د هغې په عملي کولو کې خلکو ته لارښوونه کوي او مرسته ورسره کوي. سیاسي پرمختګ او عدالت هغه وخت رامنځته کیږي چې هلته د چارواکو سره حساب وشي او حساب هغه وخت کیدی شي چې چارواکي د کار وړتیا ولري، متقي او سپیځلي وي، صداقت او ایمانداري ولري، د لوی څښتنﷻ څخه ویره ولري او په چارو کې عدل وکړي. حکومت او حکومتداري انسانانو ته خدمت، د انسان د فکر او ازادیو د ودې او الهي اوامر پرځای کول دي. د حکومت او چارواکو ستره موخه د انساني ژوند د ساتنې، پالنې او پرمختګ لپاره د نوو لاروچارو لټون، انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د سیاسي ودې او پرمختګ لپاره کارکول او په ټولنه کې د عدالت ټینګول دي.

کله چې په اسلامي ټولنه کې د دولت، حکومت او چارواکو ستره موخه د انساني ژوند د ساتنې، پالنې او پرمختګ لپاره د نوو لاروچارو لټون، انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د پرمختګ لپاره کارکول او پۀ ټولنه کې د انفرادي او ټولنیزعدالت ټینګول دي، نو موږ هم اسلامي او ملي مسوولیت لرو چې د خپل حق او راتلونکي سوله ایز او سوکاله ژوند لپاره غږ پورته کړو او د یو ازاد او عادل نظام غوښتونکي شو. داسې یو نظام چې د افغان ملت لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي، عدلي نظام جاري شي، خلک د پرمختیا پر لور روان شي او له ملي شتمنیو څخه د هیواد د وګړو د شریکې، بې قید او شرطه او عادلانه ګټې لپاره کار واخستل شي. دا ټول ارزښتونه په هیوادکې ولسي چارواکي حاکمه کوي.

**۴- ولسي چارواکي**

داسې یو نظام چې په هغې کې ومنل شي چې حکومتداري او چارواکي کول اصل او هدف نه دی، بلکې یوه وسیله ده. اصل د ټولنې د وګړو د ظرفیتونو لوړول، د وړتیاوو پوره کول او پرمختګ دی. حکومت داسې یو ټولنیزحالت رامنځته کړي چې په هغې کې د ټولنې ټول وګړي له فکري او جسمي پلوه خوندیتوب ولري او د قانون په سیوري کې پرته له ډار او ویرې څخه هوسا ژوند تیرکړي. دا ټول حقوق موږ ته لوی څښتنﷻ راکړي دي. له معاذ ابن جبل(رض) څخه روایت دی چې رسول اکرمﷺ فرمایلي دي. لَا طَاعَةَ لِمَنْ لَمْ يُطِعْ اللَّهَ . ژباړه: د هغه چا اطاعت نشته څوک چې اللهﷻ اطاعت نه کوي. همداراز بل ځای کې رسول اکرمﷺ فرمایلي دي. لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ. ژباړه: د مخلوق اطاعت د خالق په ناخوښۍ کې روا نه دی.

لوی څښتنﷻ د انسانانو لپاره حقونه او صلاحیتونه ټاکلي دي چې د بل انسان لخوا د هغې لپاره اندازې نشي ټاکل کیدی او یا د بل انسان د ژوند په هکله د لوی څښتنﷻ له اوامرو او لارښوونو څخه بهر کوم هوډ نیول کیدی شي او یا کومه پریکړه کیدی شي. په ولسي چارواکۍ کې دولت او حکومت د اسلامي اصولو په محدوده کې جوړیږي چې ستره موخه یې انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د پرمختګ لپاره کار کول او په ټولنه کې د ټولنیزعدالت ټینګول دي. څرنګه چې په ولسي چارواکۍ کې واکونه او مسوولیتونه د ټولنې له وګړو سره دي نه د یو مشخص کس سره یا له یوې مشخصې ډلې سره، له دې امله استازیتوب او چارواکي کول هم د یوې ټولنې د ټولو وګړو حق او مسوولیت دی.

استازیتوب کول، چارواکي پرمخ بوتلل او مسوولیت لرل له تقوی، ښه عمل او نیکو کارونو سره تړلي دي. د ټولنې هر وګړی لومړی د لوی څښتنﷻ په وړاندې مسوولیت لري او هغه ته ځواب ویونکی دی او بیا د خپل ولس او ټولنې په وړاندې مسوولیت لري او ولس او ټولنې ته ځواب ویونکی دی. له دې امله د ولسي چارواکۍ اصل په دې کې دی چې یو ملت د بلې ټاکنیزې دورې تر پایته رسیدو پورې انتظار نه کوي چې په یو حکومت کې بدلون راولي، بلکې په پرله پسې توګه په ورځنیو چارو کې برخه لري او هر وخت د دې واک لري چې له ټاکل شوو واکمنانو سره حساب وکړي او بدلون رامنځته کړي.

که حکومت د شریعت پرلار روان نه وي او چارواکان د اسلامي سپارښتنو، اصولو او لارښوونو پراساس خپلې چارې سرته نه رسوي، چارواکي له قانون څخه سرغړونه کوي، د خلکو اړتیاوې نه پوره کوي او ټولنه له فساد او بیعدالتۍ څخه رنځ وړي، ولس د دې واک

لري چې چارواکي (خلیفه، امیر، ولسمشر) له کار څخه ګوښه کړي. د ټولنې او ولس وګړي د دې واک او مسوولیت لري چې د چارواکو د چارو څار وکړي او د هغوی په ټولو چارو رغنده نیوکې وکړي او سمې لارې ته یې برابر کړي. هر مسلمان مکلفیت لري چې په خپله ټولنه کې د بدو مخه ونیسي او د ټولنې وګړي ښو او نیکو اعمالو ته وهڅوي. که د سیاست په نوې ژبه خبرې وکړو نو ویلای شو چې په ولسي چارواکۍ کې د چارو اصول د قانون د حاکمیت پراساس ولاړ دي. په دې سیاسي نظام کې د خلک خپل استازې ټاکي چې په مرکزي حکومت او د استازو په جرګه (ولسي جرګه) کې د دوی استازیتوب وکړي او د دوی د ګټو او رغونې لپاره کار وکړي.
په ولسي چارواکۍ کې د لوی څښتن ﷻ د واکمنۍ د سیورې په رڼا کې د چارواکۍ اختیار او پرېکړه د خلکو په لاس کې وي. د یو هیواد وګړي د هیواد او ولس لپاره په تصمیم نیولو کې فعاله برخه لري او په نیغه او ښکاره توګه د هیواد او ملت د ورځنیو سیاسي، ټولنیزو او حکومتي چارو په هکله فیصلې کوي او خپل مسوولیت سرته رسوي. فیصلې له کلیو او باندو څخه پیلیږي او د ټول ولس او ملت کچې ته رسیږي. سره له دې چې ټول وګړي په پریکړه کولو کې حق لري، مګر هغه کسان چې په مسایلو پوه وي، معلومات یې د نورو پر پرتله ډېر، پراخه او ګټور وي، اغیزمن ثابتیږي. له دې امله فیصلې له ډېرو خبرو اترو وروسته د راټول شوو کسانو د سلا او مشورې پر اساس سرته رسیږي.
ولسي چارواکي په ټولنه کې انصاف او عدالت ټینګوي او په ټولنه کې داسې ټولنیزې او اقتصادي اړیکې ټینګوي چې د هغې په سیوري کې هر انسان په خپلواکۍ، شرافت او حیثیت کې ژوند کوي. په ولسي چارواکۍ کې دولت او حکومت نه یواځې دا چې د لوړو اخلاقي معیارونو پر اصولو ولاړ وي بلکې دا لوړ اخلاقي معیارونه د ټولنې د نر او ښځې د ژوند برخه هم ګرځوي. دا هرڅه ملي یووالي ته لار هواروي.

**۵- ملي یووالی**
د یو ملت او یو هیواد سره د یو انسان احساس، پیژندنه او تړون ملي یووالی رامنځته کوي. احساس او پیژندنه د انسان د پیدایښت سره د هغه په زړه کې نه راپیداکیږي، بلکې د انسان په ورځني ژوند کې د ګډ خوي او عادت، دودونو او رواجونو، ملي نخښو نښانو، کلتور، ژبې، د ویني د اړیکو، تاریخ، احساس، ارزښتونو، ځانګړي خوراک او څښاک، او ویاړونو د ساتنې، پالنې او ودې د پرمختګ او تکامل له امله رامنځته کیږي. د دې ټولو ځانګړتیاوو وده او پر هغې راټولیدل ملي یووالی رامنځته کوي.
افغانستان د احساس او پیژندنې د ستړې تشې سره مخ دې ځکه د ملت وګړي خپله پیژندنه د قومیت، سیمې او ژبې پر اساس کوي نه د افغان او ملت پر اساس. افغانستان د بیلابیلو پرګنو، قومونو او ژبو څخه جوړ هیواد دی چې د هر قوم او سیمې خلک خپلې ژبنی او سیمه ایزې پیژندنې ته د ملي پیژندنې څخه ډېر ارزښت ورکوي چې دا کار ملي یووالي ته ستر تاوان رسوي او هیواد د کورنیو اختلافاتو او کړکیچونو پر لور بیایي. د دې اختلاف او سیمه ایزې پیژندنې ستر علت په هیواد کې د پوهې ټیټوالی او غیرمتوازن اقتصادي او کلتوري پرمختګ دی.
د افغان ملت د یووالي لپاره اړینه ده چې افغانان پر واحده پیژندنه راټول شي او سیمه ایز او ژبني ارزښتونه شاته وغورځوي. دا د دې مانا نه لري چې قومونه او ژبې دې خپل ژبني او سیمه ایز ارزښتونه له لاسه ورکړي، بلکې موخه د ملي پیژندنې ارزښت، اړتیا او غښتلي کول دي. له دې کبله اړینه ده چې افغانان پر خپل تاریخ پوه شي او په دې هم ځان پوه کړي چې تاریخي پرمختګونو، پړاونو او پیښو، او بهرنیو کلتوري او ژبني تیریو او نفوذ د دوی په ملي پیژندنه څومره مثبتې او یا منفي اغیزې کړي او کومو بهرنیو کلتورونو، دودونو او ژبو د دوی ملي پیژندنه تراغیزې لاندې راوستلې ده.
ژبنیو، قومي او سیمه ایزو توپیرونو دا ملت له یووالي نه لیرې کړی او د خلکو په منځ کې یې اختلاف رامنځته کړی دی. که افغانان په فکري او عقیدوي لحاظ د ګډ فکر او ارزښتونو پر بنسټونو راټول شي نو اختلاف له مینځه ځي، ملي پیژندنه غښتلې کیږي چې ملي یووالی رامنځته کوي. د افغانستان په ملي پیژندنه کې د اسلام دین، ګډ تاریخ، ګډ کلتور، د قومونو ترمنځ ګډ ژوند او د قومونو ترمنځ د وینې او مینې خپلوي او خیښي د ملي پیژندنې هغه بنسټونه جوړولی شي چې د افغانستان ملي یووالی پرې عملي کیدی شي. په هیواد کې متوازن اقتصادي پرمختګ، سوله، د قانون حاکمیت او ټولنیزعدالت د هیواد ملي یووالی غښتلی کوي. د افغان ملي یووالي لپاره اړینه ده چې ښه چارواکي او قانونمداره فرهنګ رامنځته شي او د افغانانو د پیژندنې، ژوند، عقیدې، نسل او مال څخه دفاع وشي. د افغانستان د ارزښتونو، دودونو او عنعنو ساتنه، روزنه، پالنه او غښتلی کول د ملي یووالي ستر بنسټونه دي.
لوی څښتن عالم او لاربنود دی
ډاکتر عبدالقیوم مومند
سالت لیک سیټي، یوټاه، د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د مارچ ۷